د مَدَني مرکزونو (فېضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره
پۀ 6 نومبر، کال 2026ء (بمطابق: 25 جمادي الاول، کال 1448ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پۀ نوم

د بني اِسرائيلو غوا

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- پۀ شريعت باندې بحث مۀ کوئ---!!
- د اِنْ شَآءَ الله وئيلو يو څو برکتونه
- د مور پلار فرمانبردار د جَنَّت حقدار (واقعه)
- پۀ ګناه کښې د چا تابعداري نشته

پيشکش
اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبه: بياناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786
GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

د دُرُود شريف فضيلت

د اَربعينِ عطّار، قسط: 2، صفحه: 10، حديثِ پاک نمبر: 10 دے:

مَا مِنْ عَبْدٍ يُصَلِّيْ عَلَيَّ صَلَاةً اِلَّا عَرَجَ بِهَا مَلَكٌ حَتّٰى يَجِيْئَ بِهَا وَجْهَ الرَّحْمٰنِ عَزَّوَجَلَّ فَيَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ: اِذْهَبُوْا بِهَا اِلٰى قَبْرِ عَبْدِيْ تَسْتَغْفِرُ لِقَائِلِهَا وَتَقَرُّ بِهَا عَيْنُهٗ

ترجمه: چې کله يو بنده پۀ ما باندې دُرُود شريف لولي نو فرښته هٰغه دُرُود شريف وړي او بره ځي او د الله پاک بارگاه ته يې رسوي نو الله پاک فرمائي: دا دُرُود زما د بنده قبر ته يوسه دا دُرُود به د خپل لوستونکي د پاره اِستغفار کوي او د هٰغه (خاص بنده) سترګې به دې ته پۀ کتلو سره يخېږي۔ [1]

وَسُت بَستہ سب فرشتے پڑھتے ہیں اُن پر دُرود
کیوں نہ ہو پھر وِرد اپنا اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام [2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

---

[1] ... مسند الفردوس، جلد:4، صفحه:10، حديث:6026۔

[2] ... قبالۂ بخشش، صفحه:164 ملتقطًا۔

وَ اِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖۤ اِنَّ اللّٰهَ یَاْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ؕ قَالُوْۤا اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ؕ قَالَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِیْنَ۝ (پارہ: 1، سورۂ بقرۂ: 67)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او یاد کړئ چې کله موسیٰ خپل قوم ته وفرمائیل: بے شکه الله تاسو ته حُکم درکوي چې یوه غوا حلاله کړئ نو هغوئ ووئیل چې آیا تاسو زمونږ سره ټوقي کوئ؟ موسیٰ وفرمائیل: زۀ د الله پناه غواړم د دې نه چې زۀ د جاهلانو نه شم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږه د وړومبیو سیپارې، د سُورۂ بقره آیت: 67 د اورېدو سعادت حاصل کړو، د دې ځائے نه واخله تر آیت نمبر: 74 پورې د بني اِسرائیلو د یوې نا اشنا غوا عجیبه واقعه ذِکر کړے شوې ده، دا هٰغه واقعه ده د کومې پۀ نسبت سره چې د دې سُورت مُبارَک نوم سُورۂ بَقَرَه (یعني د غوا د واقعې والا سُورت) کېښودے شوے دے۔ پۀ دې واقعه کښې زمونږ د زدکړې د پاره ډېر څۀ موجود دي، راځئ چې وړومبے واقعه واورو، بیا به د دې نه مېلاؤ ېدوونکي سبقونه زده کوو:

د بني اِسرائیلو د غوا واقعه

واقعه څۀ داسې وشوه چې پۀ بني اِسرائیلو کښې یو ډېر مالداره ګس وو، د هغه څۀ اولاد نۀ وو۔ ورېرونه یې وو، هُم هغوئ د هغه د دولت وارثان وو۔ یو ورارۂ یې د وراثت پۀ لالچ کښې خپل ترۂ قتل کړو او مړے یې پۀ بَله محله کښې وغورځولو۔ بیا دا قاتِل هم پخپله وو او مُدَّعِي هم پخپله جوړ شو او دعویٰ یې اوکړه چې زما ترۂ قتل شوے دے، لهٰذا قاتِل دې ولټولے شي او ما ته دې انصاف راکړے شي۔

خلقو پۀ یو بَل باندې اِلزامونه لګول شروع کړل، یو وئیل: ما نۀ بلکې فلانکي وژلے دے، بَل وئیل: ما نۀ، هغه وژلے دے۔ داسې پۀ یو بَل باندې الزامونه لګول شروع شول،

چې کله يې څۀ حل را وه نۀ وتلو نو د الله پاک د نبي حضرت موسیٰ علیہ السلام پۀ خدمت کښې حاضر شول، ټوله واقعه يې عرض کړله- حضرت موسیٰ علیہ السلام وفرمائيل:

اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ؕ (پارہ:1، سورۂ بقرہ:67)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بے شکه الله تاسو ته حُکم درکوي چې يوه غوا حلاله کړئ-

دېره د حېرانتيا خبره وه، لټول خو قاتل دي او حُکم ورکړے کېږي چې غوا ذبح کړئ--!! د قاتِل د لټولو سره د غوا څۀ تعلق دے--؟ دا سوچ يې چې اوکړو نو بني اِسرائيلو ښه پۀ بے باکی سره ووئيل:

اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ؕ (پارہ:1، سورۂ بقرہ:67)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: آيا تاسو زمونږ سره ټوقې کوئ؟

الله! الله! آيا د انبيائے کرامو علیہم السلام سره پۀ داسې لهجه کښې خبرې کېږي--؟ خو د بني اِسرائيلو بعضې خلق هم داسې بے باکه وو-

دلته د حضرت موسیٰ علیہ السلام حِلم، برداشت او نرمی ته وګورئ! د بني اِسرائيلو د داسې بے باکی باوجود هغوئ پۀ نرمی سره وفرمائيل:

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ۝ (پارہ:1، سورۂ بقرہ:67)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: زۀ د الله پناه غواړم د دې نه چې زۀ د جاهلانو نه شم-

يعني ټوقې مسخرې کول خو د جاهلانو کار دے، زۀ څۀ جاهل خو نۀ يم چې ټوقې به کووم، زۀ خو د خدائے حُکم در رسووم، دا حُکم واورئ او عمل پرې اوکړئ--!!

اوس دلته حُکم وو چې غوا ذبح کړئ! بني اِسرائيلو که هره يوه غوا ذبح کړې وے نو پۀ حُکم باندې به عمل شوے وو خو هغوئ څۀ اوکړل--؟ پوښتنې يې شروع کړلې! وه

يـې وئيل:

اُدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ؕ

(پارہ:1، سورۂ بقرہ:68)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: تاسو د خپل رب نه دُعا اوکړئ چې هغه مونږ ته ووائي چې د پغۂ غوا څنګه ده؟

يعنې کوم قِسم غوا ذبح کول دي؟ دا وضاحت اوکړئ- ارشاد وشو:

اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ ؕ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذٰلِكَ ؕ

(پارہ:1، سورۂ بقرہ:68)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: الله فرمائي چې هغه يوه داسې غوا ده چې نۂ بوډۍ ده او نۂ بالکل کم عمره ده، بلکې د دې دواړو د مينځه مينځه چې وي-

بني اِسرائيلو بيا پوښتنه اوکړه:

مَا لَوْنُهَا ؕ

(پارہ:1، سورۂ بقرہ:68)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: د هغې غوا رنګ څنګه دے؟

يعنې د الله پاک پۂ خِدمت کښې عرض اوکړئ! چې د غوا رنګ هم را وښائي، هغه د کوم رنګ پکار ده؟ حُکم وشو:

اِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ ۙ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النّٰظِرِيْنَ ۝۶۹

(پارہ:1، سورۂ بقرہ:69)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: هغه د زيړ رنګ غوا ده چې د هغې رنګ ډېر پوخ دے، هٰغه غوا کتونکو ته خوشحالي ورکوي.

دلته د رنګ په باره کښې 2 خبرې ارشاد شوې: (1): چې د زيړ رنګ غوا وي (2): داسې ښکلے رنګ وي چې ليدونکي خوشحالوي- دا يې چې واورېدل نو بني اِسرائيلو درېمه پوښتنه اوکړه:

اُدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ؕ اِنَّ الْبَقَرَ تَشٰبَهَ عَلَيْنَا ؕ

(پاره:1، سورۂ بقره:70)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: تاسو د خپل رب نه دُعا اوکړئ چې زمونږ د پاره واضحه بيان کړي چې هغه غوا څنګه ده؟ ځکه چې بے شکه په غوا کښې مونږ ته شُبه راپرېوتې-

يعنې دا خو معلومه شوه چې هٰغه غوا به د کوم قِسم وي، اوس د دې نور صفتونه هم بيان کړئ د پاره د دې چې مونږه دا په ښه شان وپېژنو- د دې پوښتنې سره بني اِسرائيلو يو ښه کار اوکړو: وه يې وئيل:

وَ اِنَّاۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ لَمُهْتَدُوْنَ۝

(پاره:1، سورۂ بقره:70)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او که الله وغواړي نو يقيناً مونږ به لاره بيامونځو-

يعنې د دې پوښتنې سره هغوئ اِنْ شَآءَ الله ووئيله، ځکه په دې ځل د غوا پوره صفتونه ښکاره بيان کړے شول، ارشاد وشو:

اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُوْلٌ تُثِيْرُ الْاَرْضَ وَ لَا تَسْقِى الْحَرْثَ ۚ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيْهَا ؕ

(پاره:1، سورۂ بقره:71)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: هغه يوه داسې غوا ده چې هغې نه د زمکې اړولو کارونه نۀ اخستے کېږي او نۀ پټو ته اُوبه ورکوي، بالکل بے عېبه ده، په هغې کښې هيڅ داغ نشته-

بيا د هغوئي تَسلي وشوه، وه يـې وئيل:

اَلْـٰٔنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ ؕ (پارہ:1، سورۂ بقرہ:71)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: (پۂ دې باندې) هغوئي ووئيل: اوس تاسو بالکل صحيح خبره راوړله.

اوس د غوا قِسم، د هغې رنګ او ټول صفتونه وغېره پۂ تفصيل سره معلوم شول، نو بني اِسرائيل د داسې غوا پۂ لټون کښې ووتل- [1]

دلته خو دا واقعه وشوه، هلته داسې وشول چې يو ګس وو، د هغه سره هُم يوه سخی وه، يو ځوي يـې هم وو- هغه څۂ اوکړل چې سخی يـې د ځان سره کړله او ځنګل ته لاړو، هغه يـې هم هلته پرېښودله او د الله پاک پۂ بارګاه کښې يـې عرض اوکړو: اے الله پاکه! زۂ دا سخی ستا پۂ امانت کښې پرېږدم، چې کله زما ځوي لوئي شي نو دا سخی هغه ته عطا کړې-

د هغې نه پس هٰغه نېک ګس وفات شو، چې کله د هغه ځوي ځلمے شو نو مور ورته ووئيل چې ستا بابا داسې داسې کړي وو او يوه سخی يـې پۂ ځنګل کښې پرېښودې وه، لاړ شه! هغه ولټوه! دا ځلمے ځنګل ته لاړو، د الله کريم پۂ بارګاه کښې يـې عرض اوکړو: اے کريم مالِکه! زما پلار يوه سخی ستا پۂ امانت کښې پرېښودې وه، هغه دې ما ته راعطا کړې- نو هٰغه سخی کومه چې اوس غټه شوې وه او پوره غوا ترېنه جوړه شوې وه، هٰغه هم پۂ هٰغه ځنګل کښې هغوئي ته مېلاؤ شوه- هغۂ د ځان سره کړله او کور ته راغلو، مور ورته ووئيل: ځويه---!! دا پۂ بازار کښې خرخه کړه ! قيمت يـې درې سِکّې ولګوه او د سودا کولو نه پس د خرڅولو نه مخکښې زما نه پوښتنه اوکړه- ځلمے ډېر نېک وو، د مور فرمانبرداره وو، بازار ته لاړو، بولي وشوه، يو ګس د غوا اخستو د پاره راغلو، پوښتنه يـې

[1]... تفسير طبری، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زيرِ آيت:67، جلد:1، صفحہ:379 و 380، رقم:1175 مفصلًا۔

اوکړه: په څو ده؟ په درېو سِکو- اخستونکي ووئيل: زۀ به تا له 6 درکړم خو د خپلې مور نه د پوښتنې کولو نه بغېر يې راباندې هم اوس راخرڅه کړه- ځلمي ووئيل: داسې نشي کېدے، زۀ به د خپلې مور نه پوښتنه کووم نو سودا به کووم- دا يې چې ووئيل نو کور ته لاړو، د مور بې بې نه يې پوښتنه اوکړه، حُکم وشو: ټيک ده، 6 سِکې قيمت يې ولګوه خو د سودا کولو نه مخکښې بيا هم پوښتنې له راشه- ځلمے بيا بازار ته لاړو، بيا يې قيمت 6 سِکې ولګولو- هُم هٰغه ګاهک بيا راغلو، وه يې وئيل: زۀ به تا له 12 سِکې درکړم خو شرط دا دے چې د مور نه د پوښتنې کولو نه بغېر يې راخرڅه کړه- ځلمي بيا هم انکار اوکړو، وه يې وئيل: د مور نه د پوښتنې کولو نه بغېر سودا نۀ کووم- بيا د مور خوا له لاړو، مور يې هم ډېره نېکه او عقلمنده وه، په معامله باندې پوهه شوه، وه يې وئيل: ځويه---!! دا اخستونکے څوک انسان نۀ دے بلکې ما ته ښکاري چې په انساني شکل کښې فرښته ده- اوس چې د هغه سره مېلاؤ شې نو ورته ووايه: آيا تاسو ما ته د غوا د خرڅولو اجازت راکوئ؟ هلک هم داسې اوکړل- بيا هغه ووئيل: زۀ واقعي چې فرښته يم، تۀ اوس غوا مۀ خرڅوه---! ډېر زر به بني اِسرائيلو ته د دې غوا ضرورت راپېښېږي، بيا يې خرڅه کړه او د دې غوا قيمت د دې ډکه څرمن سرۀ زر کېږده- هلک خبره ومنله-

بل خوا بني اِسرائيل د غوا په لټون کښې وو، په لټون لټون کښې د هٰغې غوا والا خوا له راغلل، هغه قيمت کېښودو چې د دې غوا د ډکې څرمنې همره سرۀ زر به اخلم- د هغوئ خو ضرورت وو- نو د هغه غوښتلے نرخ يې ورکړو، [1] غوا يې واخستله، هغه يې ذبح کړله، بيا حُکم وشو:

اِضْرِبُوْهُ بِبَعْضِهَا (پارہ:1، بقرہ:73)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: دا مقتول د غوا په يوه ټُکړه ووهئ،

[1]... تفسير بغوی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زيرِ آيت:67، جلد:1، صفحہ:61 و 62 خلاصۃً۔

يعني د دې غوا د غوښې يوه حصه د هٰغه مړي سره ولګوه! نو چې څنګه د غوا د غوښې پوټے د مړي سره ولګولے شو، مړے راپاڅېدو، بيا هغه د خپل قاتل نوم وښودلو، بيا مړ شو- [1] الله پاک وفرمائيل:

كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰىۙ وَ يُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ۝۷۳

(پاره:1، سورۂ بقره:73)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: هُم داسې به الله مړي ژوندي کوي، او هغه تاسو ته خپلې نخښې ښائي چې تاسو پوهه شئ-

سُبْحٰنَ الله! د الله پاک څنګه قدرت دے، که هٰغه رَبِّ کريم غوښتلے نو د غوا نه بغېر يې هم مړے راژوندے کولے شو خو بني اِسرائيل هٰغه وو چا چې د سَامري د جوړ کړے شوي سخي عبادت کړے وو، نو د هغوئ پۂ لاسونو باندې غوا ذبح کړے شوه- بيا دا هم ممکن وه چې د ژوندۍ غوا د څۂ حصې د لګولو سره مړے راژوندے شوے وے خو رَبِّ قادِر و قدير پرې غوا ذبح کړله او دا يې وښودله چې کوم رَبّ د مړې غوا پۂ غوښه کښې داسې اثر پيدا کولے شي نو د هٰغه رَبّ د قدرتونو به څۂ شان وي---!! د قيامت پۂ ورځ مړي راژوندي کول، هغه ته څۂ ګران دي---؟

آفلاک وارض سب تیرے فرماں پذیر (فرمانبردار) ہیں
حاکم ہے تُو جہاں کے نشیب و فراز کا
ہے پاک رُتبہ فکر سے اُس بے نیاز کا
کچھ دخل عقل کا ہے، نہ کام اِمتیاز کا [2]

---

[1] ... تفسیر طبری، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:73، جلد:1، صفحہ:403، رقم:1312۔

[2] ... ذوقِ نعت، صفحہ:17 بتقدم و تاخر۔

په آيتونو مبارکو کښې د زدکړې خبرې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې ايمان تازه کوونکې قرآني واقعه کښې زمونږ د زدکړې د پاره ډېر څه موجود دي-

(1): د ډېرو پوښتنو کولو نه ځان ساتئ!

وړومبۍ خبره خو د زدکړې د پاره دا مېلاؤ شوه چې په دِيني معاملو کښې د بے ځايه پوښتنو کولو نه بچ کېدل پکار دي- وګورئ چې بني اِسرائيلو ته حُکم شوے وو: غوا حلاله کړئ! دوئ که هره يوه غوا حلاله کړې وه، کار به يې شوے وو خو هغوئ حُکم وه نۀ منلو، بے ځايه پوښتنې يې شروع کړلې، غوا دې د کوم قِسم وي؟ د هغې رنګ دې څنګه وي؟ د هغې صفتونه به څۀ وي؟ دوئ چې څنګه پوښتنې کولې، قيدونه لګېدل او هغوئ ته غوا لټول مشکل شول- ځکه مونږ له پکار دي چې په دِيني معاملو کښې د بے ځايه پوښتنو نه ځان وساتو- **په حديثِ پاک کښې دي**، محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِنَّ اللّٰهَ يَكْرَهُ لَكُمْ ثَلَاثًا اللّٰه پاک ستاسو د طرف نه دري خبرې نۀ خوښوي: **(1):** قِيْلٌ وَقَالٌ يعنې بے مقصده بحث مباحثه کول **(2):** وَكَثْرَةُ السُّؤَالِ بے ځايه پوښتنې کول **(3):** وَاِضَاعَةُ الْمَالِ او مال ضائع کول-[1]

دا دري واړه خبرې اللّٰه پاک نۀ خوښوي- ځکه بے ځايه پوښتنې مۀ کوئ! څۀ حُکم چې وشو، بس په هغې باندې عمل اوکړئ! نن سبا دلته داسې ماحول دے چې خلق بے ځايه پوښتنې کوي: ❁ نـمونځونه پينځه ولې فرض دي، شپږ ولې نۀ دي؟ ❁ هُم د رمضان روژې ولې فرض کړے شوې؟ ❁ زکوٰة هُم دوه نيم (2.5) فيصده ولې مقرر شوے دے؟ ❁ سود ولې حرام کړے شوے دے؟ ❁ يو ګس په مَدَني چينل باندې د اميرِ اهلِسُنَّت

---

[1] ... مسند امام احمد، مسند الکوفيين، جلد:7، صفحه:425، حديث:18637۔

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه پوښتنه اوکړه: په جنَّت کښې د همېشه ژوند ولې دے؟ اوس دا خو د کولو سوالونه نۀ دي- آؤ! د اِسلامي احکامو حِکمت معلومول، د دې په ذريعه باندې ايمان مضبوطول دا ښه خبره ده، په دې کښې څۀ باک نشته خو خلق د اعتراض والا انداز اِختياروي- بعضې نادانه خو مَعَاذَاللّٰه! الله او رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له مشورې هم ورکوي، مثلاً دا حُکم داسې پکار وو، که نـمونۀونه 5 نۀ 4 وو نو ښه به وو، د يوې مياشتې په يو ځائے د روژو نيولو په ځائے که په هره مياشت کښې څلور روژې فرض کړے شوے وے نو اسانه به وه- اَلْاَمَانُ وَالْحَفِيْظ...!! دا سخت زړورتوب دے- په داسې خبرو باندې بعضې وخت د کُفر حُکم هم لګي- ځکه په دې خبرو کښې اخته کېدل بالکل نۀ دي پکار- بس چې څۀ حُکم مېلاؤ شو، هغه اوکړئ- داسې فضول او بے ځايه پوښتنې هيڅکله هم مۀ کوئ-

په شريعت باندې بحث مۀ کوئ---!!

د سبق نه ډک او يو ډېر اهم حديثِ پاک واورئ! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِنَّ اللّٰهَ فَرَضَ فَرَائِضَ فَلَا تُضَيِّعُوْهَا بے شکه الله پاک فرائض فرض کړي دي، هغه مۀ ضائع کوئ! وَحَدَّ حُدُوْدًا فَلَا تَعْتَدُوْهَا الله پاک حدونه مقرر کړي دي، د هغې نه مخکښې مۀ ځئ! وَحَرَّمَ اَشْيَاءَ فَلَا تَنْتَهِكُوْهَا څۀ څيزونه يې حرام کړي دي، په هغې کښې مۀ اخته کېږئ---!! وَسَكَتَ عَنْ اَشْيَاءٍ مِنْ غَيْرِ نِسْيَانٍ يعني الله پاک (د هېرولو نه پاک دے، هغه) هېر کړي نه دي، صرف په تاسو باندې يې د رحمت په طور باندې په بعضې خبرو باندې خاموشي فرمائيلې ده، فَلَا تَبْحَثُوْا عَنْهَا بس د داسې خبرو په باره کښې بحث مۀ کوئ---!! (1)

---

[1] ... سنن دار قطني، كتاب الرضاع، جلد:2، جز:4، صفحه:91، حديث:4350۔

الله پاک دې مونږ ته د شريعت حُکمونه مِن و عَن (لکه څنګه چې ووئيلے شي هٰغه شان) د منلو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

(2): خپل مال او دولت الله پاک ته وسپارئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې ايمان تازه کوونکې قرآني واقعې نه دوهم سبق دا مېلاؤ شو چې مونږ ته خپل مال او دولت، خپل هر څۀ الله پاک ته سپارل پکار دي- وګورئ چې د بني اِسرائيلو نېک ګس خپله سخي الله پاک ته وسپارله، رَبِّ کريم د هغې حفاظت اوکړو، هغه يې د ځنګلي ځناورو نه بچ کړله، د هغې يې ښه پالنه اوکړه او هغه چې لويه شوه نو د نېک ګس ځوي ته مېلاؤ شوه-

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې کوم څيز الله پاک ته وسپارلے شي، هغه د ضائع کېدو نه بچ کېږي، ځکه خپل عادت جوړ کړئ، روزانه د شپې د اودۀ کېدو نه مخکښې آيتُ الکرسي لولئ، خپل کور، سامان، بال بچ، اولاد د دې پورې چې خپل ځان هم الله پاک ته سپارئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِيم! حفاظت به مو کېږي ❁ مونږه بازار، مارکيټ وغېره ته ځو، ګاډے پارک کول وي، هغه لاک کړئ، د حفاظت پوره بندوبست اوکړئ، ورسره ورسره 10 کرته يَاجَلِيلُ ولولئ چپ يې کړئ- اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِيم! سامان، ګاډے وغېره به د غلا کېدو نه محفوظ وي- [1] ❁ د سفر وغېره د پاره روان شوئ، سحر د کار د پاره روان شوئ نو کور، بال بچ، اولاد الله ته وسپارئ او ځئ ❁ کله چې هم د چا نه جدا کېږئ، پۀ مخه ښه وايئ، د هٰغه وخت دُعا ده: اِسْتَوْدِعُكَ اللّٰهَ الَّذِيْ لَا تَضِيْعُ وَدَائِعُهٗ (زۀ تا الله پاک ته سپارم، کوم چې امانتونه نۀ ضائع کوي)- [2] دا

---

[1] ... چڑيا اور اندھا سانپ، صفحه:29۔

[2] ... ابن ماجه، کتاب الجهاد، باب تشييع الغزاة و وداعهم، صفحه:458، حديث:2824۔

دُعا مونږ ته يادول پکار دي، نن سبا هسې هم حالات څۀ عجيبه شان دي، د ماشومانو د اغوا واقعې، د قتل واقعې، د وړو ماشومانو جينکو سره د زور زياتي واقعې رامخې ته کېږي، الله پاک دې مونږه، زمونږه کور والا، بال بچ او اولاد محفوظ ساتي، د کور نه د وتلو پۀ وخت، د ماشومانو سکول وغېره ته د لېږلو پۀ وخت دا دُعا لولئ، اِنْ شَآءَاللّٰه الْكَرِيم! حفاظت به مو کېږي-

اے انسانه! دا ستا امانت دے

د مسلمانانو د دوېم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د وخت واقعه ده، هغوئي دوه پلار ځوي وليدل، دواړه پۀ شکل کښې يو شان وو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ وفرمائيل: دومره پۀ شکل کښې يو شان پلار او ځوي ما د ننه پورې نۀ وو ليدلي- هٰغه ګس عرض اوکړو: جناب! زۀ تاسو ته د دې يوه عجيبه خبره اوکړم--!! زما د ښځې پۀ خېټه باندې ماشوم وو، هٰغه وخت زۀ پۀ سفر روان شوم (پخوا به سفر پېدل کېدلو، که چرته لرې به تلل نو ډېرې ډېرې مياشتې بلکې کلونه به هم لګېدل، نو) وائي چې: ما خپل راتلونکے مېلمه الله پاک ته حواله کړو او پۀ سفر باندې روان شوم، څو مياشتې پس چې پۀ خوشحالیِ خوشحالیِ کور ته راغلم نو څۀ ګورم چې کور ته مې تاله لګېدلې ده، پۀ ګاؤنډ کښې مې پوښتنه اوکړه، معلومه شوه چې زما ښځه د ماشوم د زېږېدلو نه مخکښې د دُنيا نه تلې ده، د هغې جنازه شوې او دفن کړے شوې ده- وائي: زۀ ډېر خفه شوم، قبر ته يې لاړم، فاتحه وغېره مې ولوسټله، مابنام د زړۀ غولولو د پاره د دوستانو سره ناست ووم چې ناڅاپه مې د خپلې ښځې د قبر نه پورته کېدونکې لمبې وليدلې- زۀ ډېر حېران شوم، قبر ته چې ورنزدې شوم نو وه مې کتل چې هغه لمبې نۀ دي بلکې نُور دے کوم چې د قبر نه پورته کېږي، چې ورنزدې شوم نو وه مې ليدل چې قبر کولاؤ شوے دے او زما ځوي پۀ قبر کښې دننه لوبې کوي، غېبي اواز راغلو: اے بنده--!! خپل امانت واپس واخله، که

ښځه دې هم مونږ ته سپارلے وے نو هغه به دې هم موندلې وه۔ [1]

سُبْحٰنَ اللہ! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! څومره ښکلے شان دے زمونږه د رَبِّ رحمان او رحيم--!! خبرا! مونږ له هم پکار دي چې چرته ځو، خپل هر څۀ الله پاک ته سپارو۔ اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! برکتونه به مو نصيب کېږي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

(3): اِنْ شَآءَ الله وايئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د غوا والا واقعې نه درېم سبق دا حاصل شو چې مونږ ته پۀ هر راتلونکې کار باندې اِنْ شَآءَ الله وئيل پکار دي۔ وګورئ چې بني اِسرائيلو د غوا پۀ باره کښې پۀ يوې پسې بَله پوښتنه کوله، چې کله هغوئ ووئيل:

وَ اِنَّاۤ اِنْ شَآءَ اللہُ لَمُهْتَدُوْنَ۝ (پارہ:1، سورۂ بقرہ:70)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او که الله وغواړي نو يقيناً مونږ به لار بيامونځو۔

هٰغه وخت يې مقصد پوره شو او هغوئ ته د غوا پۀ باره کښې تفصيل بيان کړے شو۔ پۀ حديثِ پاک کښې دي: که بني اِسرائيلو اِنْ شَآءَ الله نۀ وے وئيلے نو چرې به يې هم هٰغه غوا نۀ وه موندلې۔ [2]

د اِنْ شَآءَ الله وئيلو قرآني حُکم

مونږ له هم پکار دي چې د اِنْ شَآءَ الله وئيلو عادت جوړ کړو۔ پۀ 15 سيپاره، سورۂ کهف، آيت: 23 او 24 کښې الله پاک ارشاد فرمائي:

---

[1] ... نوادر الاصول، الاصل الحادی والثلاثون فی حقیقة الاستیداع وسره، جلد:1، صفحه:120۔

[2] ... تفسیر درمنثور، پارہ:1، سورۂ بقرة، زیر آیت:68، جلد:1، صفحه:189۔

وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَایْءٍ اِنِّیْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا ۟ اِلَّاۤ اَنْ یَّشَآءَ اللّٰهُ ۫ (پاره:15، سورۂ کهف:2423)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او کله هُم د یو څیز پۀ باره کښې مۀ وایه چې زۀ سبا دا کوونکے یم- خو دا چې الله یې وغواړي-

د اِنْ شَآءَ الله معنیٰ ده: که الله پاک وغوښتل- مونږه چې کله هم څۀ اراده اوکړو مثلاً ❁ زۀ به پینځه منټه پس دا کار کووم ❁ لس منټه پس به دا کار کووم ❁ مابنام به کووم ❁ سبا به کووم ❁ کال پس به کووم ❁ دوه کاله پس به کووم، د دې ارادې سره مونږ ته اِنْ شَآءَ الله هم ضرور وئیل پکار دي او فرض کړئ که اِنْ شَآءَ الله وئیل هېر شي نو څۀ کول پکار دي؟ الله پاک فرمائي:

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ اِذَا نَسِیْتَ (پاره:15، سورۂ کهف:24)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او چې کله تا نه هېر شي نو خپل رَبّ یاد کړه-

یعني که اِنْ شَآءَ الله وئیل هېر کړئ نو چې کله دریاد شي نو هٰغه وخت یې وایئ، **حضرت عبد الله بن عباس** رضی الله عنهما **فرمائي**: که یو کال پس هم دریاد شي چې یو کال مخکښې ما فلانکے اراده کړې وه، پۀ هغې مې اِنْ شَآءَ الله نۀ وو وئیلي نو کال پس یې وایئ- [1] عرض دا چې کله هم دریاد شي نو هٰغه وخت دې اِنْ شَآءَ الله ووئیلے شي-

د اِنْ شَآءَ الله وئیلو یو څو برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له هم پکار دي چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی الله علیه واله وسلم پۀ دې سُنَّت باندې عمل اوکړو او د اِنْ شَآءَ الله وئیلو عادت جوړ کړو- د اِنْ شَآءَ الله وئیلو ډېر برکتونه دي ❁ پۀ اِنْ شَآءَ الله وئیلو کښې د عقیدې اِصلاح ده ❁ پۀ

[1] ...تفسیر صراط الجنان، پاره:15، سورۂ کهف، زیرِ آیت:24، جلد:5، صفحه:556۔

اِنْشَآءَالله وئيلو کښې د عمل اِصلاح ده ❁ اِنْشَآءَالله ويونکے اقرار کوي چې زۀ بنده يم او بنده د خپل مالِک د مرضی تابع وي ❁ اِنْشَآءَالله ويونکے اقرار کوي چې زۀ هيڅ نۀ يم، زما مرضي هيڅ نۀ، څۀ چې هم دي صِرف زما د مالِک دي، زما د الله پاک د مرضی نه بغېر پاڼه هم نشي خوزېدے ❁ اِنْشَآءَالله ويونکے د توحيد پۀ تقاضو باندې عمل کوي ❁ پۀ اِنْشَآءَالله وئيلو کښې د ځان خوښی کټ کېدل دي ❁ پۀ اِنْشَآءَالله وئيلو کښې د غرور او تکبر کټ کېدل دي ❁ اِنْشَآءَالله وئيلو والا خپله مرضي د الله پاک مرضی ته سپاري او کوم بنده چې خپله مرضي فَنا کړي، ځان د الله پاک مرضی ته وسپاري، د هٰغه ګس کاميابي نصيب کېږي۔

اِنْ شَآءَ الله کله وئيل پکار دي---!

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ هر اُمېد باندې اِنْشَآءَالله وئيل ضروري دي ګڼې نو هٰغه اُمېد به نۀ پوره کېږي۔ پۀ اِنْشَآءَالله وئيلو کښې د عقيدې او د عمل اِصلاح ده، د دې نه معلوميږي چې اِنْشَآءَالله ويونکے پۀ خپل طاقت باندې باور نۀ لري بلکې د رَبّ پۀ مدد باندې باور کوي۔

آؤ! خيال ساتئ چې صِرف پۀ جائزو او بهترو خبرو باندې اِنْشَآءَالله وئيل پکار دي، پۀ حرامو خيزونو، بلاګانو او افتونو باندې اِنْشَآءَالله نۀ دي وئيل پکار۔ مثلاً ❁ دا ووايئ: اِنْشَآءَالله زۀ به نـمونځ کووم، دا مۀ ووايئ چې اِنْشَآءَالله زۀ به غلا کووم ❁ داسې ووايئ: اِنْشَآءَالله د بيمار به ارام نصيب شي۔ دا مۀ ووايئ چې اِنْشَآءَالله بيماري به يـې خوره شي ولې چې بيماري بلا او افت دے، که داسې څۀ جمله وئيل وي نو **انديښنه[ويره]** لفظ استعمالول پکار دي، مثلاً داسې دې ووئيلے شي: زما سره انديښنه[ويره] ده چې وبا به خوره شي۔ زما سره انديښنه ده چې طوفان به راځي وغېره۔ پۀ داسې ځائے کښې اِنْشَآءَالله وئيل ښه

نۀ دي۔ [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

(4): د مور پلار حُكم منئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د غوا والا واقعې نه څلورم او ډېر اهم سبق دا مېلاؤ شو چې د مور پلار د حُكم منلو ډېر برکتونه دي، وګورئ چې هٰغه ځلمے د چا چې دا غوا وه، هغه ته مور حُكم کړے وو چې ځويه! د سودا کولو نه مخکښې زما نه پوښتنه اوکړه- بيا هغه ته پۀ بازار کښې د ډبل قيمت آفر اوکړے شو چې د درېو سِکو پۀ ځائے 6 سِکې واخله خو د مور نه د تپوس کولو نه بغېر راباندې غوا راخرڅه کړه---!! هٰغه فرمانبرداره ځلمي د دُنيا دولت له لَته ورکړله او د مور پۀ حُكم باندې يې عمل اوکړو، د دې فرمانبرداری هغه ته څۀ صِله مېلاؤ شوه---؟ هٰغه غوا د کومې قيمت چې صرف 3 سِکې وو، دومره ګرانه خرڅه شوه چې د غوا څرمن د سرو زرو نه ډکه کړے شوه او هغه له ورکړے شوه- کېدے شي چې دا د دُنيا د ټولو نه قيمتي غوا وه او د دې دومره قيمت ولې ولګېدو---؟ د مور د حُكم منلو پۀ برکت- معلومه شوه چې د مور پلار پۀ حُكم منلو کښې د دُنيا هم خېر دے، د اخرت هم خېر دے- مونږ له پکار دي چې د مور پلار هر جائز حُكم ضرور اومنو-

د مور پلار فرمانبردار د جنَّت حقدار

ياد ساتئ چې د مور پلار نافرماني يعنې د هغوئ جائز حُكم نۀ منل کبيره ګناه ده- **د دواړو جهانو د سرکار، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** چا چې پۀ داسې حالت کښې سحر کړو چې د خپل مور پلار فرمانبرداره دے، د هغه د پاره د سحر نه د جنَّت

---

[1]... **تفسير نعيمی، پاره:** 1، **سورۀ بقره، زيرِ آيت:** 70، **جلد:** 1، **صفحه:** 467، **خلاصةً۔**

دوه دروازے برسېره کولے شي او که پۀ مور پلار کښې يو هم وي نو يوه دروازه برسېره کېږي- او چا چې پۀ داسې حالت کښې مابنام کړو چې د مور پلار پۀ باره کښې د الله پاک نافرماني کوي د هغه د پاره د سحر نه د دوزخ دوه دروازے برسېره کېږي او (که پۀ مور پلار کښې) يو وي نو يوه دروازه برسېره کېږي- يو ګس عرض اوکړو: اګر که مور پلار پۀ هغه باندې ظُلم کوي- وه يې فرمائيل: اګر که ظُلم کوي، اګر که ظُلم کوي، اګر که ظُلم کوي- [1]

دل دُکھانا چھوڑدیں ماں باپ کا | ورنہ اس میں ہے خسارہ آپ کا

د مور پلار نافرماني مۀ کوئ!

❁ **پۀ حديث شريف کښې دي:** د مور پلار نافرماني مۀ کوئ! اګر که هغوئ حُکم اوکړي چې خپل ټول مال مونږ ته حواله کړئ! نو دا هم اوکړئ---!! [2] ❁ **پۀ يو حديث کښې فرمائي:** تۀ د خپلې مور پلار سره نېکي کوه! ستا اولاد به ستا سره نېکي کوي- [3]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ځينې خلق د مور پلار حُکم له اهميت نۀ ورکوي، چې کله تعليم حاصل کړي نو ذهن جوړ شي چې مونږه زيات تعليم يافته يو، مور پلار مو د څۀ نه خبر دي، زمانه بدله شوې ده، طور طريقې بدلې شوې دي، مور پلار خو پخوانی خبرې کوي، د الله پاک پناه---!! داسې هيڅکله هم مۀ کوئ! مور پلار هغه دي چا چې تاسو د ګوتې نه نيولې وئ او ګرځېدل يې درته ښودلي دي، آيا نن مونږه د هغوئ نه زيات پوهېږو، نا---!! هيڅکله هم نا- که مور پلار جائز حُکم کوي نو لازمي يې منئ!

---

[1] ... شعب الايمان، باب فی بر الوالدين، جلد:6، صفحه:206، حديث:7916۔

[2] ... مصنف عبدالرزاق، کتاب الصدقة، باب ماينال الرجل...الخ، جلد:9، صفحه:62، حديث:16937 خلاصةً۔

[3] ... معجم اوسط، من اسمه احمد، جلد:1، صفحه:285، حديث:1002۔

د مور پلار پۀ رضا کښې د الله پاک رضا ده

د بني اِسرائيلو يو ګس وو، الله پاک هغه له ډېر خوږ اواز ورکړے وو، هغه چې به کله د تورات شريف تلاوت کولو نو خلق به سم پۀ جوش کښې راتلل خو پۀ هغه کښې يو عېب وو، هغه به شراب څښل- مور به پوهه کولو چې ځويه! شراب څښل ګناه ده، مۀ يې څښه---!! خو هغه خو د الله پاک نافرمانه وو، ورسره به يې د مور نافرماني هم کوله- يو ځل پاک محفل راجوړ کړے شو، خلق د لرې لرې نه د هغه د تلاوت اورېدو د پاره راغلل، هغه پۀ ښکلي انداز کښې د تورات شريف تِلاوت اوکړو، خلقو له يې خوند ورکړو، د دې ځائے نه چې فارغ شو نو کور ته لاړو او د شرابو څښلو د پاره کښناستو، مور يې د پوهه کولو د پاره راغله، وه يې وئيل: ځويه! دا مۀ څښه، ګناه ده - بيا خو دا د شرابو پۀ نشه کښې وو، دۀ مور له څپېړه ورکړله- مور يې راپرېوتله، پۀ سترګو کښې يې څۀ څيز لاړو او د دواړو سترګو نظر يې لاړو- بيا هغه ډېر خفه شو، دا د کور نه ووتلو او د ځنګلونو طرف ته روان شو، د ډېرې مودې پورې يې د الله پاک عبادت کولو، شراب څښل يې هم پرېښودل، د خپلو ټولو ګناهونو نه يې توبه کړله، د مور د نافرمانۍ نه يې هم توبه کړله، د ډېرې مودې پورې يې عبادت کولو، يو ځل غېبي اواز وشو: اے بنده---!! د څو پورې چې تا خپله مور نۀ وي رضا کړې، ستا عبادت قبول نۀ دے- بيا دا کور ته راغلو، د مور نه يې معافي وغوښتله خو معاف نۀ کړے شو، دا پۀ جذبه کښې راغلو او خپل هٰغه لاس يې کټ کړو پۀ کوم لاس باندې يې چې د مور نه څپېړه ويستلې وه، مور بيا هم معاف نۀ کړو، بيا هغه لرګي راجمع کړل، پۀ هغې کښې دننه کښېناستو او وه يې وئيل: موري! کۀ تا زۀ معاف نۀ کړم نو زۀ به ځان ته وور ورته کړم- بيا د مور پۀ زړۀ کښې رحم راغلو، دلته مور ووئيل: ځويه! ما تۀ معاف کړې- ورسره يوه فرښته پۀ انساني شکل کښې راغله، د هغه کټ کړے شوے لاس

يـې واپس ور وستلو او د مور پۀ سترګو يـې لاس رابنکل او نظر يـې واپس راغلو۔ [1]

سُبْحٰنَ اللہ! خورو او محترمو اِسلامي وروڼو! د مور پلار پۀ خبره منلو کښې خېر، د هغوئ پۀ خدمت کښې سعادت او د دواړو جهانو سر بلندې ده ولې د هغوئ پۀ نافرمانۍ کولو، حُکم نۀ منلو او بے ادبۍ کولو کښې صرف ذِلت دے۔ ځکه مونږ له پکار دي چې د مور پلار فرمانبرداره اوسو! د هغوئ خدمت کوو۔ اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! د دين او دُنيا خېرونه به مو نصيب کېږي۔

پۀ ګناه کښې د چا اِطاعت نشته

د يوې خبرې وضاحت کووم: که مور پلار د څۀ ناجائزه کار حُکم اوکړي، مثلاً: ❁ د فرض نـمونځ نه مو منع کړي ❁ د فرض روژو نه مو منع کړي ❁ د ږيرې خرېلو حُکم اوکړي نو پۀ داسې کارونو کښې دې د هغوئ حُکم نۀ منلے کېږي، **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** لَاطَاعَةَ فِیْ مَعْصِیَةِ اللہِ د الله پاک پۀ نافرمانۍ کښې د چا اطاعت نشته۔ [2]

اوس دلته څۀ کېږي، مور پلار خدائے دې نۀ کړي که د نېکۍ نه منع کړي نو خلق د هغوئ سره جګړې شروع کړي، پۀ کور کښې غوبل شروع کړي، د مور پلار غېبتونه کوي، د خپلو خپلوانو پۀ مخکښې د هغوئ بد بيانوي، دا غلط انداز دے، د ګناهونو نه ډَک کار دے۔ الله پاک فرمائي:

فَلَا تُطِعْهُمَا وَ صَاحِبْهُمَا فِی الدُّنْیَا مَعْرُوْفًا ۪

(پاره:21، سورۂ لقمان:15)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو د هغوئ خبره مۀ منه او پۀ دُنيا کښې پۀ ښه شان د هغوئ مرسته اوکړه۔

---

[1] ... عجائب بنی اسرئیل، صفحه:66، خلاصةً۔

[2] ... مسلم، کتاب الامارة، باب وجوب طاعة الامراء في غير معصية...الخ، صفحه:738، حديث:1840۔

يعني که مور پلار د ګناه حُکم اوکړي نو د هغوئ خبره مه منئ خو په داسې حالت کښې هم د هغوئ سره ښه سلوک کوئ ❁ د هغوئ سره جګړه مه کوئ ❁ د هغوئ سره جنګ مه کوئ ❁ مه يې تنګوئ ❁ د هغوئ نه مه خفه کېږئ ❁ خبرې ورسره مه بندوئ ❁ ښه سلوک ورسره کوئ ❁ د هغوئ ادب کوئ۔ **حضرت مجاهد** رحمۃ اللہ علیہ **فرمائي:** مور پلار که څوک وهي نو د هغوئ د لاس نيولو هم اجازت نشته، څوک چې مور پلار ته په برندو سترګو ګوري، هغه د هغوئ سره ښه سلوک کوونکے نۀ دے۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د مور پلار د فرمانبرداری توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم

د ماهنامه فيضانِ مدينه اېپلي کېشن تعارف

اے د خوږ نبي صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم **عاشقانو!** د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا **ماهنامه فيضانِ مدينه** (**Mahanama Faizan e Madina**) اېپلي کېشن معارفي کړے شوے دے، په دې اېپلي کېشن کښې مخکښې ټولې ماهنامه فيضانِ مدينه د سوفټ فائلز **PDF** په شکل کښې او د ټولو ماهنامو مضامين آرټيکلز په ليکلي شکل کښې موجود دي، کوم چې د کاپي کولو سره شېئر کېدے هم شي ❁ که يو خاص موضوع يا عنوان سرچ کول وي نو د سرچ آپشن (**Search option**) په ذريعه په ټولو ماهنامو کښې د خپلې خوښې مواد لټولے کېدے شي ❁ مضامين د موضوعاتو په اعتبار سره ترتيب کړے شوي دي۔ په خپل سمارټ فون کښې دا اېپلي کېشن ډاؤن لوډ (**Download**) کړئ! پخپله ترېنه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... برُّ الوالدين لابن جوزی، کيفيه العقوق، صفحه:153۔

د بيان پۀ اخره کښې يوه شرعي مسئله عرض کووم:

صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ کوته کول)

مسئله: د مقتدي نه که پۀ هېره واجِب پاتې شي نو سجده سهو نۀ واجِب کېږي-

وضاحت: مثلاً مونږ د اِمام صاحب سره نـمونځ کوو، پۀ وروسۍ تَشَهُّد کښې کېناستو، مونږ اَلتَّحِيَّات شريف د عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ پورې ولوستو، اِمام صاحب يـې لا لولي، بعضې وخت پۀ دې موقع باندې مقتدي پۀ هېره درودِ پاک هم لولي- داسې وخت کښې خلق پۀ کشمکش کښې پريوځي چې پۀ مابانديِ سجدۀ سهو واجِب شوه؟ که نۀ؟ جواب وارئ! کوم اِنسان چې پۀ اِمام پسې نـمونځ کوي، که د هغه نه پۀ هېره واجِب پاتې شي نو پۀ هغه باندې سجدۀ سهو نۀ واجِب کېږي- پۀ جَمعه کښې سجدۀ سهو هله واجِب کېږي کله چې د اِمام نه واجِب پاتې شي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق را عطا کړي- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

بے درکه شوے انسان به راپيدا شي (وظيفه)

يَاجَامِعُ، يَامُعِيْدُ (اے جمع کوونکيه!، اے بيا پيدا کوونکيه!)

که ماشوم يا لوئي کَس بے درکه شي نو ټول کور والا دې بے شمېره ځل د يَاجَامِعُ، يَامُعِيْدُ وظيفه اوکړي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! که الله پاک وغوښتل نو راپيدا به شي- [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق را عطا کړي- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...وقار الفتاوی، جلد:2، صفحه:210، بتغير قليل۔

[2] ...چڑيا اور اندھا سانپ، صفحه:31۔